ليکوال تاج محمد تمکين ۲۰۱۲/۰۸/۰۵

# چې دستار ترې هزار دي

دستار دننګ نښه ده د غيرت نښه ده، دستار د افغانو د عظمت نښه ده د پت نښه ده خو چې د دستار خيال وساتل شي او په کمال وساتل شي. دستار خو ټول خلک تړي او دسر نه يې تاووي خو د دستار سړی د دستار سړی وي، د کار سړی وي او هو ښيار سړی وي او وخت د دستار دغه ککرۍ ټولو ته پيژندلي دي، وخت د دستار سم تعريف کړی دی او د دستار د ککرۍ خصوصيات يې ټولو ته ښودلي دي، بيا دخلکو قضاوت دی چې دغه دستار د الفت سمبول ګرزوي او که د مصيبت سمبول، د مينې علمبردار يې ګڼي او که دکرکې پيغامبردار، خلک د دستار د شان په ساتلو سره خپله فيصله کوي چې دا دستار والا توره باز دی او که پيسه باز ځکه چې وخت د هر ځيز بادشاه دی، وخت خپل قضاوت جاري ساتي، د چا شان او عظمت ته نه ګوري که ربښتونی خدمتګار وي دهغه خيال هم نه ساتي او که بادشاه دلوټمار وي هغه هم نه پريږي.
د دستار ککره هغه  ده چې د وطن د خدمت لپاره په سنګر کې جنګيږي او شپې يې په ويښه تيريږي، د ملت د خدمت جذبه ورسره وي نور هيڅ نه پيژني، په ژوند کې ورته د وطن د خدمت نه علاوه هيڅ ځيز اهميت نه لري او تل دا چيغې وهي چې زه افغان سرباز يمه، زه لکه دباز يمه، د دښمن لپاره قهر يم، غضب يم او د خپل ملت لپاره مينه يم الفت يم، وطن زما شان دی، وطن زما ځآن دی او په دې وطن مې مال او ځآن دواړه قربان دی. دا هغه ککره ده چې خلک ورته سلام کوي او احترام کوي، خلک يې عزت کوي او ستايی يې، د خلکو ورسره مينه ده او درنښت ته يې قايل وي، په هر چا دده  عزت تل وي او دده حوصلې ته په سلام کولو مايل وي. وخت د ده په حق کې سم تعبير کړی دی، دی يې په مثبته توګه خلکو ته پيژندلی دی او په خلکو يې دده عزت کول منلي  دي.
د دستار سړی هغه هم دی چې دستار باندې خپل مخ پټوي، په دستار باندې پټ راځي او تل په مصيبت راځي،  دستار په دستار الوزوي، په دستار مسجد الوزوي، مرقد الوزوي، نه ورسره د دستار خيال شته او نه ددستار د دستار، د دستار سرته هم په درنه سترګه نه ګوري اود الله درته هم ښه نظرنه کوي، سپين دستار هم په وينو لړي او دمينې دار هم ژړوي. وطن هم ژړوي او د مرغانو چمن هم، نه ملت پيژني او نه الفت، بس دده سره هم دا يو جنون وي چې په دستار به خپل کار کوم، د دستار سر به په دار کوم او د دستار نه به خلک بيزاروم. دی هم ځان ته د دستار ککره وايي، دی هم فکر کوي چې زه د دستار علمبردار يم ځکه هوښيار يم، خو وخت دده په حق کې هم خپله فيصله اورولې ده، دی يې خلکو ته ناسم پيژندلی دی، سمبول د  غم يې خلکو ته ښوولی دی او د وطن خلکو ته يې ويلي ده چې دا دستار دکار دی خوپه سر کولو والا يې اغيار دی، دا د چمن قاتل دی او دوطن د ورانولو لامل دی، دا سړی د دستار نه تنګ دی ځکه د وطن نه په ځنګ دی او د خپلو خلکو سره په جنګ دی.
د دستار سړی هغه هم دی چې په سياست کې دی، په چوکۍ دعظمت کې دی او خپل دستار د نورو خلکو نه با اختياره ګڼي او ځان هوښياره  ګڼي، تصميم نيسي د الفت سره  دملت لپاره او غم خوري په صداقت سره دجيب لپاره، دی هم ځانته د دستار ککره وايي او ځآن د عالمو سر ګڼي  او ځآن لوړ لر اوبر ګڼي خو دده دستار سپينوالی هم وخت خلکو ته بيان کړی دی، خلکو ته يې په سمه مانا ورپيژندلی دی، وخت خلکو ته ويلی دي چې دا سړی ددستار نه دی، د کار نه دی او د ملت له نظره هوښيار هم نه دی، دده دستار به سپين وي خو فکرونه يې تور دی، دده خبرې به ډيرې وي خو حقيقت کې ګنديرې دي، دا سړی وطندار دی خو د ملت لپاره د کار نه دی، دا سړی وطن مل دی خو لوی غل دی او ملت ته په چل دی.
د دستار ککره هغه هم ده چې ځان يې په ګرميو کې سوځولی دی او په ژمي کې ې ځان په يخنې وهلی دی، سر يې غريبې وهلی دی او په ژوند کې کړيدلی دی خو ده خپلو بچو ته رزق پيدا کړی، ده خپل عظمت ساتلی دی د خپلې شملې او دستار پټ يې ساتلی دی، ده چاته د اړتيا لاس نه دی غزولی .په ځآن يې سخته تيره کړيده خو خپل ځان او خپلو بچو ته يې رزق پيدا کړی دی، دی نه د شرق قصه کې وي نه دغرب، مختاره وي او خودداره وي او په نره ځآنته رزق ګټي ، په نره خپل بچي ساتي، خپل کور ساتي. وخت دا سړی هم پيژندلی دی، باتور او نر يې ګڼلی دی او ددستار دعزت لپاره تير دسر يې ګڼلی دی، وخت ده ته د بهادرۍ دستار ور په سر کړی دی او مينې علمبردار يې ګڼلی دی، وخت دی وطن ته وفادار منلی دی او دښمن يې داغيار ګڼلی دی او دی يې د دستار سم سړی خلکو ته پيژندلی.
دستار هغه ځوک هم تړي چې دولت کې کې کار کوي خو په پت کې کار نه کوي، خپل تور لاسونه د رشوت په تور رنګ توروي، په تندي يې د فساد کرښې له ورايه ځليږي، دی هم خپلو بچو ته کار کوي خو په ځنګ يې داغيار کوي، دی هم ځان د دستار سړی بولي دکار سړی بولي خو دده خوشالياني د ملت نه غلاشوۍ خوشالياني دي، دده دولت دملت دولت دی د خوار ولس او کړيدلي مظلوم ولس شتمني ده چې ده پرې جوړه کړې خاني ده، ده خپل بچي خوښ ساتلي خو دا خوښي ی  دبل چانه غلا کړيده، ده ځانته رزق ګټلی خو حلال نه په حرامه يې خپله خيټه پړسولې ده، ده خپل


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځان د رشوت په لعنت اخته کړی دی، دخدای په مصیبت یې ځآن ګیر کړی دی دی به په هستۍ کې وي په مستۍ کې به وي خو په ده دده وجدان لعنت ویلی دی او بې پروا وخت دی هم خلکو ته پیژندلی دی او ده ته یې ملي خاین ویلی، دوطن لپاره یې زهر قاتل ګڼلی او د وطن د غدار صفت یې ورکړی، د ملت لپاره یې مصیبت ګڼلی، وخت وایي چې دی خپل ژوند د خپلو بچو سره مل تیروي خو په چل او ول یې تیروي، دی به د مصنوعي خوښیو سره تل وي خو پشان لکه دغل وي.
چې دستار تړي نو هغه هزار خلک دی خو ددستار ککره خلک پیژني ځکه خو یې دمرګ نه پس هم بیا په ښه نوم یادوي او چې ددستار پت چا نه وي په ځای کړي شان او شوکت یې ورته نه وي ساتلی نو ټول پرې لعنت وایي او نوم ی هم څوک نه خوښوي چې وایي وري، هغه رښتیا ویل شوي دي چې:

چې دستار تړي هزار دی ددستار سړي په شمار دي

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ